بانک The Bank
میاشتنی | Monthly | ماهنامه
۱۹۶ گڼه - ۱۴۴۵ ربیع الثاني - ۱۴۰۲ لیرم




# نقش بانکداری اسلامی
## در دستیابی به اهداف توسعه پایدار ملل متحد

صفحه ۲۰

**Seventh Meeting of the AML and Other Crimes High Coordination Commission**

P.26

**د افغانستان بانک سرپرست رئیس د کوچنیو پورونو په کنفرانس کې ګډون وکړ**

صفحه ۱




د افغانۍ ثبات = د نرخونو ثبات او د اقتصاد ثبات

افغانۍ زموږ د هویت، ویاړ او ملي اقتدار نښه ده!



# بانک

## لړلـــــیک / فهرست


| لړلـــــیک / فهرست | مخ |
|---|---|
| د افغانستان بانک سرپرست رئیس د کوچنیو پوروونو په کنفرانس کې ګډون وکړ | ۱ |
| هفتمین جلسه کمیسیون عالی هماهنگی مبارزه با پولشویی و سایر جرایم؛ تدویر گردید | ۲ |
| د افغانستان بانک لومړی مرستیال د افغاني دودولو او په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو... | ۳ |
| د افغانستان بانک د بین البانکي ادایتو (ACSS) نوي سیستم پرانسته وکړه | ۸ |
| سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با هماهنګ کننده ویژه سازمان ملل متحد... | ۱۰ |
| نویو راستېدونکو هېوادوالو د هرکلي په موخه تورخم ته د افغانستان بانک د سرپرست رئیس سفر | ۱۱ |
| اقتصادي خبرونه | ۱۳ |
| سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با اعضای اتحادیه صرافان سرای شهزاده، دیدار نمود | ۱۵ |
| د افغانستان بانک د سرپرست رئیس په مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه | ۱۵ |
| د افغانستان اقتصادي پرمختګ لپاره یو زرین فرصت | ۱۶ |
| نقش بانکداری اسلامی در دستیابی اهداف توسعه پایدار ملل متحد | ۲۰ |
| DAB Held a Workshop for Mass Media Representatives | ۲۵ |
| Seventh Meeting of the AML and Other Crimes High... | ۲۶ |
| The Impact of Loan Portfolio Management on Credit... | ۳۱ |



د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سدادار، مفتي عبدالله آخندزاده

سرلیکوال: شفیق الله بارز

مسوول مدیر: انور الله حیات

خبریال: سید خالد خالقیار

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسوول: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک



ټیلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af



د ثبت ګڼه: ۶۵۸



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسندګان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.


Da Afghanistan Bank-Youtube twitter.com/AFGCentralbank www.facebook.com/AFGCentralbank

# د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس د کوچنیو پورونو په کنفرانس کې ګډون وکړ

د ۱۴۴۵ د ربیع الثاني ۱۵ مه – د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري د کوچنیو پورونو کنفرانس کې، چې د کابل په سرینا هوټل کې جوړ شوی وو، ګډون وکړ. په دې غونډه کې د یوناما ترځنګ نورو نړیوالو ادارو او د امارتي ادارو مسئولینو هم ګډون درلود.

د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري ووېل چې د کوچنیو تشبثاتو سکتور د هېواد په اقتصاد کې مهمه ونډه لري او د کوچنیو پورونو مالي موسسې په غیربانکي مالي سکتور کې د مالي محصولاتو تنوع او په ځانګړې توګه مالي محصولاتو ته د لاسرسي، زارعینو ته د زراعت د ودې او کوچنیو متشبثینو ته د سوداګرۍ په برخه کې آسانتیاوې رامنځته کوي او په ټوله کې د بې وزلۍ په کمولو کې مهم رول لري. ښاغلي بدري زیاته کړه چې د افغانستان بانک د دې سکتور د اهمیت په پام کې نیولو سره، مقرراتي اډانه جوړه کړې ده او ډېر ژر به د مقرراتي چوکاټ په رڼا کې د فعالیت جوازونه صادر کړي. همدارنګه، د افغانستان بانک د دې سکتور د پراختیا او خوندیتوب لپاره اړین پروګرامونه په پام کې نیولي دي او اوسمهال د یاد سکتور د خوندیتوب او د بانکو د ساتنې لپاره د مالي حمایوي صندوق د جوړولو په طرحې کار کوي ترڅو د دې صندوق له لارې په تاکل شوي فورمول او د لازمو شرایطو سره سم له هغو مؤسسو سره چې ستونزو سره مخ کېږي، مرسته وشي. همداراز، بانکونه هم باید کوچنیو پورونو ته یوه برخه ځانګړې کړي.

ښاغلي بدري د خپلو خبرو په بله برخه کې ووېل چې د دې سکتور د خوندیتوب، روڼتیا او نړیوالو معیارونو ته د ژمنتیا په تړاو ټولو نړیوالو ادارو ته ډاډ ورکوي او له هغوی څخه د مننې ترځنګ یې ترې وغوښتل چې د دې سکتور د پیاوړتیا لپاره فرصتونه برابر کړي او په افغانستان کې د فقر کمولو په برخه کې ګامونه پورته کړي. ښاغلي بدري زیاته کړه چې له دې وروسته به د کوچنیو پورونو مؤسسې اړ وي چې د افغانستان بانک څخه د فعالیت جواز ترلاسه کړي او د پورونو مدیریت لپاره ځانګړې پالیسي جوړې کړي. همدا ډول، ښاغلي بدري زیاته کړه چې د افغانستان بښینه وګړي کولای شي چې د افغاني عنعناتو په رڼا کې په تشبث کې ونډه واخلي او په دې لړ کې یې د افغانستان بانک لخوا د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه.

ښاغلي بدري د خپلو خبرو په دوام کې ووېل چې د افغانستان بانک په دې برخه کې د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو ادارو هڅو ته د قدر په سترګه ګوري او چمتو دی چې له دې اداري سره یوځای د نوموړي سکتور د ودې لپاره چټک ګامونه پورته کړي.

په دې غونډه کې د ملګرو ملتونو سازمان د سرمنشي ځانګړې استازې آغلې روزا اوتونبایوا ووېل چې د ملګرو ملتونو سازمان چمتو دی چې د خپلو بېلابېلو ادارو او د اروپايي ټولنې، نړیوال بانک، او آسیا پراختیايي بانک په څېر نورو نړیوالو ادارو سره یو ځای د دې سکتور ملاتړ وکړي او له اسلامي شریعت سره د مطابقت لرونکو محصولاتو له لارې او د اسلامي هېوادونو د متخصصینو د تخنیکي ملاتړ پر مټ دا سکتور به پښو ودروي.

د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د ریاست د دفتر لوی آمر ښاغلي صدیق الله خالد، د غیربانکي مالي مؤسسو لوی آمر ښاغلي احمد ظاهر ناصرزي او د اسلامي بانکوالۍ د څارنې لوی آمر ښاغلي ډاکټر یوسف سلیم سربېره د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت، کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مسئولینو، د سوداګریزو بانکونو، خصوصي سکتور او کوچنیو تشبثاتو استازو هم ګډون کړی وو. همدا ډول د افغانستان د کوچنیو تشبثاتو لخوا د جوړو شوو محصولاتو نندارتون هم د دې کنفرانس یوه برخه وه.

# هفتمین جلسه کمیسیون عالی هماهنگی مبارزه با پولشویی و سایر جرایم، تدویر گردید

۷ جمادی الاول ۱۴۴۵- هفتمین جلسه هماهنگی مبارزه با پولشویی و سایر جرایم، تحت ریاست محترم نور احمد آغا معاون اول د افغانستان بانک که در عین حال سرپرست کمیسیون مبارزه با پولشویی و سایر جرایم، نیز میباشد، دایر گردید.

محترم نور احمد آغا معاون اول د افغانستان بانک طی این جلسه گفت که بعد از فتح، این دومین جلسه کمیسیون عالی هماهنگی مبارزه با پولشویی و سایر جرایم است که با اشتراک اعضای آن تدویر میگردد.

وی افزود که هدف اصلی این کمیسیون مبارزه با پولشویی و سایر جرایم و ایجاد هماهنگی بهتر در این زمینه میباشد. معاون اول د افغانستان بانک گفت که هماهنگی میان ادارات مربوطه سبب میشود که با پولشویی و مواد مخدر مبارزه شده و از عواید ناشی از جرایم، جلوگیری گردد.

معاون اول د افغانستان بانک گفت که هدف دیگر این جلسه این است که برای جهان تفهیم نمائیم که امارت اسلامی افغانستان متعهد به تعامل مناسب با تمام کشور های جهان و نهاد های مالی و بانکی بوده و در کنار آن از لحاظ شرعی، مبارزه با عواید ناشی از فعالیت های غیر مشروع را وجیبه دینی و اسلامی خود دانسته و اجازه نمیدهد که عواید از مسیر های حاصل شود که منجر به زیان کشور های دیگر گردد.

محترم نور احمد آغا گفت که بادر نظر داشت موقف امارت اسلامی افغانستان، ما خواهان تعامل مثبت با تمام کشور های جهان میباشیم و د افغانستان بانک متعهد است که تمام قوانین و مقررات مربوطه را که در مغایرت با ارزش های اسلامی نباشد، تطبیق نماید.

متعاقباً محترم جمال ناصر روفی آمر مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک که همچنان رئیس دارالانشا کمیسیون مبارزه با پولشویی و سایر جرایم، نیز میباشد، در مورد رژیم، نقاط قوت، ضعف، فرصت ها، چالش ها، و در سطح ملی هماهنگی و همکاری بین ادارات و سایر موارد، معلومات مفصل ارائه نمود.

در ادامه سایر اعضا نیز روی نظارت و تنظیم فعالیت های تشبثات غیر مالی و سکتور های حرفوی، ارتقای ظرفیت نهاد های تنفیذ مبارزه با پول شویی و تبادل اطلاعات دو جانبه، معلومات لازم را شریک نموده و در مورد تصامیم جلسه ششم به تفصیل صحبت کردند.

قابل یاد آوریست که در این جلسه محترم صدیق الله خالد آمر عمومی دفتر ریاست نیز اشتراک داشته و پیرامون وظایف و فعالیت های د افغانستان بانک به پرسش های اعضای جلسه، پاسخ ارائه نمود.

در این جلسه نمایندگان محترم وزارت های امور خارجه، داخله، مالیه و عدلیه در کنار نمایندگان محترم استخبارات، سترمحکمه و نظارت از تطبیق فرامین و احکام، اشتراک ورزیده و گزارشات خویش را در خصوص وظایف مشخص شده طی جلسه ششم کمیسیون هماهنگی، ارائه نمودند و هر یک به نمایندگی از اداره مربوطه خویش در زمینه تطبیق فیصله های این کمیسیون، اطمینان همکاری دادند.



# د افغانستان بانک لومړی مرستیال د افغانی دودولو او په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د زړو بانکنوټونو د سوځولو په پار د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته ولاړ

د افغانستان بانک د افغانی دودولو او په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه وخت په وخت افغاني بانکنوټونه چاپوي او د افغاني زاړه بانکنوټونه له بازار څخه راټولوي، په بدل کې یې هېوادوالو ته نوي بانکنوټونه وېشي او راټول شوي مندرس بانکنوټونه سوځوي. د همدې موخو په پام کې نیولو سره د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نور احمد آغا د افغانستان بانک د لویدیځ، سویل لویدیځ او ختیځ زونونو او د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د افغانستان بانک مختلفو نمایندګیو ته سفرونه وکړل.

همداراز، هغه په ولایتونو کې د افغانستان بانک د نمایندګیو څخه لیدنه وکړه او د بانک له کارکوونکو سره د لیدنې پر مهال یې د هغوی ستونزې، کاري ننګونې او وړاندیزونه په دقت سره واورېدل او کارکوونکو ته یې لازمي سپارښتنې وکړې ترڅو هېوادوالو ته د معیاري او آسانه خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې له هیڅ ډول هڅو دریغ ونکړي. د دې سفرونو نور تفصیل دلته وړاندې کیږي.

## د زړو بانکنوټونو سوځول

د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي نور احمد آغا کندهار، هرات او ننګرهار ته د خپلو سفرونو په لړ کې د مندرسو افغانۍ بانکنوټونو د سوځولو له پروسې څخه څارنه وکړه د دې سفر په ترڅ کې د ښاغلي نور احمد آغا په مشرۍ د (۱،۹۹۹،۹۶۶،۰۰۰) يو ميليارد نهه سوه نهه نوي ميليونه نهه سوه شپږ شپيته زره افغانيو په ارزښت د بېلابېلو انواعيو زاړه بانکنوټونه د ټاکل شوي پلاوي په شتون کې وسوځول شول. د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي نور احمد آغا د خپلو خبرو پر مهال وويل چې د افغانستان بانک تل هڅه کړې چې ګرانو هېوادوالو ته په راکړه ورکړه کې اړينې بانکي او مالي آسانتياوې رامنځته کړي. همدا ډول هغه زياته کړه چې د افغانستان بانک له درېيو مياشتو راهيسې نوي بانکنوټونه بازار ته وړاندې کړي او په بدل کې يې زاړه بانکنوټونه له ګردښت څخه بهر کړي دي.

د افغانستان بانک لومړي مرستيال د بانکنوټونو د زړ زړېدو بنسټيز لاملونه په بازار کې د نغدو پيسو کارول، د اداينې د بريښنايي سيستمونو او اعتباري کارتونو نه کارول، د پيسو په شمېرلو کې د يو شمېر هېوادوالو ناسم چلند او د بانکونو پر ځای په کورونو کې د پيسو ساتل په ګوته کړل او له ګرانو هېوادوالو يې وغوښتل ترڅو دې اصل ته په پاملرنې سره له مرکزي بانک سره همکاري وکړي.

## کندهار

د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي نور احمد آغا په مشرۍ د ۱۴۰۲ کال د لړم د مياشتې په ۱ او ۲ نېټه په کندهار ولايت کې د څلور سوه او شل ميليونه او اته سوه يو دېرش زره (۴۲۰،۸۳۱،۰۰۰) افغانيو په ارزښت راټول شوي زاړه بانکنوټونه په دوو پړاونو کې د ګمارل شوي پلاوي تر څار لاندې له کره شمېرنې او کنټرول وروسته وسوځول شول. په دې بانکنوټونو کې د ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰، افغانيو انواعيې شاملې وې.

| شمېره | اړوند زون | د بانکنوټونو انواعيې | مبلغ |
|---|---|---|---|
| ۱ | د سويل لويديځ زون (کندهار) | ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ | ۴۲۰۸۳۱۰۰۰ |

## هرات

د افغانستان بانک لومړي مرستيال ښاغلي نور احمد آغا د خپل سفر په دوام، هرات ولايت ته ولاړ او د هغه په مشرۍ دا ځل (۱،۴۶۰،۲۸۰۰۰۰) يو ميليارد څلور سوه شپيته ميليونه دوه سوه اتيا زره افغانيو په ارزښت راټول شوي زاړه بانکنوټونه په لويديځ زون کې د ګمارل شوي پلاوي تر څار لاندې له کره شمېرنې او کنټرول وروسته وسوځول شول. بايد ووېل شي چې په دې بانکنوټونو کې د ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ او ۱۰۰۰ افغانۍ انواعيې شاملې وې.

| شمېره | اړوند زون | دبانکنوټونو انواعيې | مبلغ |
|---|---|---|---|
| ۱ | لويديځ زون (هرات) | ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰، ۱۰۰۰ | ۱۴۶۰۲۸۰۰۰۰ |

د يادونې وړ ده چې په لويديځ زون کې راټول شوي زاړه بانکنوټونه د مالیې او عدليې وزارتونو، د هرات ولايت د امنيتي مسوولينو او کارکوونکو، د افغانستان بانک د بېلابېلو شعبو له استازو او اړوندو ادارو څخه د جوړ شوي پلاوي په حضور کې ځانګړو بټيو ته انتقال او وسوځول شول.

## ننګرهار

د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا په مشرۍ پلاوي چې د هېواد ختیځ زون ننګرهار ولایت ته یې سفر کړی وو، په یاد زون کې (۱۱۸،۸۵۵،۰۰۰) یو سل و اتلس میلیونه اته سوه پنځه پنځوس زره افغانیو په ارزښت مندرس بانکنوټونه چې د (۱،۲،۵،۱۰،۲۰،۵۰،۱۰۰،۵۰۰،۱۰۰۰) بانکنوټونو انواعیې په کې شاملې وې، وسوځول.

| شمېره | اړوند زون | د بانکنوټونو انواعې | مبلغ |
|---|---|---|---|
| ۱ | ختیځ زون (ننګرهار) | ۱۰۰۰،۵۰۰،۱۰۰،۵۰،۲۰، ۱،۲،۵،۱۰ | ۱۱۸۸۵۵۰۰۰ |

باید ووېل شي چې د افغانستان بانک لومړي مرستیال چې د ختیځ زون مرستیال ښاغلي عبدالحق حلیم یې هم ملتیا کوله د دې سفر په اوږدو کې د ختیځ زون له دفتر څخه لیدنه وکړه او د دې زون کارکوونکو ته یې سپارښتنه وکړه چې د درنو هېوادوالو لپاره پر وخت او غوره خدمتونه وړاندې کړي.

هېره دې نه وي چې په ختیځ زون کې د مندرسو بانکنوټونو د سوځونې پر مهال د ننګرهار د والي ښاغلي حاجي ګل محمد سرپېره د یو شمېر اړوندو ادارو استازو هم ګډون درلود.

### د افغاني ترویج او د اسعارو مخنیوی

په راکړو ورکړو کې د افغانۍ کارولو او د اسعارو مخنیوي په برخه کې د عامه پوهاوي رامنځته کولو په موخه د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نور احمد آغا د خپلو هلو ځلو په دوام بېلابېلو ولایتونو ته سفرونه وکړل او له مختلفو دولتي چارواکو، قومي مشرانو، سپین ږیرو او سوداګرو سره یې ولیدل. سربېره پر دې، ښاغلي نور احمد آغا په ولایتونو کې د افغانستان بانک د نمایندګیو څخه لیدنه وکړه او د بانک له کارکوونکو سره د لیدنې پر مهال یې د هغوی ستونزې، کاري ننګونې او وړاندیزونه په دقت سره واورېدل او کارکوونکو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې ترڅو هېوادوالو ته د معیاري او آسانه خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې له هیڅ ډول هڅو دریغ ونکړي.



## هلمند، زابل او ارزګان ولایتونو کې د افغاني ترویج او د اسعارو مخنیوی

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نور احمد آغا د هلمند قدرمن والي او د دې ولایت له سپینږیرو، قومي مشرانو او سوداګرو سره ولیدل.

ښاغلي نور احمد آغا د خپلو خبرو پر مهال د پولي سیاستونو د اغېزناکه پلي کولو، د انفلاسیون کنټرولولو او د اسعارو پر وړاندې د افغاني ارزښت ساتلو په تړاو خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې الله الحمد اوسمهال افغاني د نړۍ د هېوادونو د ثبات لرونکو پولي واحدونو څخه ده او له ښه ارزښت څخه برخمنه ده. نوموړي د هلمند ولایت محترم والي او قومي مشرانو او سپینږیرو څخه وغوښتل چې خلک د افغاني کارونې ته وهڅوي او په داخلي معاملو، او پېرودلو کې د اسعارو د کارونې مخنیوی وکړي.

ښاغلي نور احمد آغا د خپلو خبرو په دوام کې وویل چې افغاني زموږ د ملي ځواک او ویاړ نښه ده، نو له همدې امله ټول افغانان اړ دي څو د افغاني د ارزښت ساتلو او د لا ثبات لپاره یې په خپلو داخلي معاملو او راکړه ورکړه کې ملي پیسې وکاروي او ملاتړ یې وکړي. هغه له خلکو وغوښتل چې د پېرودلو پر مهال د افغاني کارولو سربېره د هغې سمې ساتنې ته هم پاملرنه وکړي، تر څو افغاني بانکنوټونه له ټاکلي وخت څخه ژر زاړه نه شي، څکه بیاځلي چاپ یې ډېر لګښت لري او که سمې ساتنې ته یې پاملرنه وشي، کولای شو د بیا ځلي چاپ پیسې یې د هېواد په رغنیزو پروژو ولګاوو.

وروسته د هلمند والي، ښاغلي مولوي طالب د افغاني د ثبات او د ولایتونو د نغدینګۍ د تأمینولو په برخه کې د افغانستان بانک د لاسته راوړنو د ستایلو ترڅنګ، د افغاني دودولو په برخه کې د دې ولایت منسوبینو د ژمنتیا او پرله پسې هڅو ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه، چې په دې ولایت کې یې د ځایي متنفذینو، ولایتي چارواکو، ملي سوداګرو او نورو اقشارو سره په همکارۍ د ملي پیسو کارولو او د هغې سمې ساتنې ته د پاملرنې په برخه کې د عامه ذهنیت جوړونې پروسه له وړاندې پیل کړې او په دې برخه کې به خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

همدارنګه، د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نور احمد آغا د ۱۴۴۵ د ربیع الثاني په ۲۳ نېټه ارزګان ولایت ته ولاړ او د دې ولایت له والي ښاغلي مولوي احمد علي جان او نورو ولایتي چارواکو سره یې ولیدل. د افغانستان بانک لومړي مرستیال د دې لیدنې په اوږدو کې د افغاني په دودولو ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې د ارزګان د ولایتي چارواکو د همکارۍ غوښتنه وکړه. ښاغلي نور احمد آغا د خپلو خبرو په بله برخه کې په سمه توګه د افغاني ساتنې ته پاملرنه او د بانکنوټونو د ژر زړېدو مخنیوی د هر افغان ملي دنده وبلله او له خلکو یې وغوښتل څو په دې برخه کې جدي پاملرنه وکړي.

وروسته د ارزګان والي ښاغلي مولوي احمد علي جان د افغاني د دودولو او په کورنیو معاملو کې د اسعارو کارولو د مخنیوي په برخه کې د دې ولایت د چمتووالي په تړاو معلومات ورکړل او ژمنه یې وکړه چې د دې پروسې د عملي کولو لپاره به هېڅ ډول هاند و هڅې ونه سپموي.

### د افغانستان بانک له کارکوونکو سره لیدنې

د افغانستان بانک لومړي مرستیال، ښاغلي نوراحمد آغا د اړوند پلاوي سره یوځای د په بېلابېلو ولایتونو کې د افغانستان بانک نمایندګیو ته ولاړ او له کارکوونکو سره یې ولیدل. د افغانستان



بانک لومړي مرستیال په هرات ولایت کې د پرلپسې زلزلو پیښېدو له امله خپله ژوره خواشیني وښوده او د کارکوونکو او د هغوی د کورنیو د حال احوال پوښتنه یې وکړه. ښاغلي نوراحمد آغا د دې ولایت د زلزلې شهیدانو روح ته د دعا ترڅنګ، د دغې پېښې ټپیانو ته د روغتیا هیله وکړه او د افغانستان بانک د لوېدیځ زون له کارکوونکو یې وغوښتل څو په دې حساسو شرایطو کې، د هرات شریفو خلکو ته غوره بانکي خدمتونه وړاندې کړي. باید یادونه وکړو چې ښاغلي نوراحمد آغا د افغانستان بانک د لوېدیځ زون له آمر سره په ګډه د زون له بېلابېلو برخو او شعبو لیدنه وکړه او کارکوونکو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې.

همداراز، ښاغلي نوراحمد آغا د افغانستان بانک د فراه ولایت نمایندګۍ له کارکوونکو سره لیده کاته وکړل او هغوی ته یې لازمې سپارښتنې وکړې. هغه له ټولو کارکوونکو وغوښتل څو خلکو او سوداګرو ته معیاري بانکي آسانتیاوې او خدمتونه وړاندې کړي او د هېواد د وضعیت په ښه والي کې خپله ونډه ترسره کړي. هغه د خپلو خبرو په لړ کې په خلکو غږ وکړ ترڅو په خپلو ټولو راکړو ورکړو کې د افغانی کارولو ترڅنګ د هغې سمې ساتنې ته هم پاملرنه وکړي تر څو د ژر زړېدا مخه یې ونیول شي.

همدا ډول، هغه د ارزګان ولایت له نمایندګۍ څخه د لیدنې په موخه یاد ولایت ته هم سفر وکړ او له همکارانو سره یې ولیدل او د چارو د ښه والي او خلکو ته د معیاري خدمتونو د وړاندې کولو لپاره یې د یادې نمایندګۍ همکارانو ته اړینې اصلاحي سپارښتنې وکړې. همدا ډول هغه د خزانې په ګډون د دې نمایندګۍ له بېلابېلو شعبو څخه لیدنه وکړه او خلکو او سوداګرو ته یې د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو د بهیر پر آسانه کولو ټینګار وکړ.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نور احمد آغا له دې مخکې په زابل او کندهار ولایتونو کې د دولتي چارواکو، ځایي متنفذینو او سوداګرو سره په راکړو ورکړو کې د افغانۍ د لا دودولو په تړاو ګټورې خبرې کړې دي.

# د افغانستان بانک د بین البانکي اداینو (ACSS)نوي سیستم پرانسته وکړه

۱۴۴۵ جمادي الاول ۵ مه – د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي حاجي ملامحمد آخوند په مشرۍ د بین البانکي ادایئو سیستم چې نوی د افغانستان بانک له لوري رغول شوی دی، پرانیسته وشوه. د دغه سیستم د پرانیستې پر مهال د افغانستان بانک دویم مرستیال وویل د خوښۍ ځای دی چې نن د افغانستان بانک د یو داسې عصري بانکي سیستم خاوند شو چې په نړیوالو سټنډردونو برابر دی، فعال او په رسمي ډول یې ګټې اخیستنې ته سپارو. د نوموړي په خبره د دې سیستم رامنځته کول یوه لویه لاسته راوړنه ده.

د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي ملا محمد آخوند وویل د افغانستان اسلامي امارت له بریا او په هیواد کې د نظام تر بدلون وروسته پر افغانستان یو لړ بندیزونه ولګول شول، له بده مرغه یو شمیر هغه سیستمونه چې د بهرنیو کمپنیو له خوا جوړ شوي وو، د دې ډول سیستمونو لپاره دوی هم خپل خدمات بند کړل، دې چارې د ATS یا بین البانکي ادایئو سیستم کې ستونزې

رامنځته کړي او د خصوصي بانکونو او د مالیې د محترم وزارت په چارو یې ښه اغیزه وکړه.

د افغانستان بانک له فرصت څخه په ګټې اخیستنې سره د ACSS/ICPSS پخوانی سیستم بیا فعال کړ، تر څو د بانکونو ترمنځ خدمات وړاندې کړي او د عوایدو د راټولولو په برخه کې د بانکونو او د مالیې محترم وزارت چارې په ټپه و نه دریږي.

وریسې د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمر ښاغلي عبیدالله عبیدي خبرې وکړې او د یاد سیستم د رامنځته کولو په اړه یې د غونډې ګډونوالو ته مفصل تخنیکي معلومات ورکړل. ښاغلي عبیدي وویل دغه سیستم چې موږ یې نن پرانیسته کړو، په کې ټول مروجه ستندردونه پکې په پام کې نیول شوي دي. دا سیستم د Microservices په طریقه جوړ شوی دی چې ډېرې ښېګڼې او ځانګړتیاوې لري، امنیتي برخو ته یې پوره پام شوی او د API Gateway یا له نورو سیستمونو سره د وصل کړکۍ کې یې ټول نړیوال معیارونه په پام کې نیول شوي دي چې د ( Sigtas, Afmis, CBS) سیستمونه په آسانۍ ور سره تبلیدای شي. د نوموړي په خبره هغه موارد چې په پخواني سیستم کې مینول وو، په نوي رامنځته شوي سیستم کې بشپړ اتومات دي چې دا به د چارو په ترسره کولو کې اغېزناک رول ترسره کړي.

ښاغلي عبیدي وویل الحمدالله نوی جوړ شوی سیستم (ACSS/ICPSS) د نړیوال بانک لخوا چمتو شوي سیستم په څیر په ټولو معیارونو برابر فعالیت لري او هیڅ لګښت نه دی پرې راغلی چې د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ د لوی آمریت له لوري به یې د پام ساتنې چارې ترسره کیږي. له دې وړاندې د پخواني سیستم د جوړونې لپاره ۵ میلیونه امریکایي ډالر لګښت ورکړل شوی وو او د خوندیتوب او ساتنې لپاره یې په کلنۍ پول لګښتونه ورکول.

تر هغې وروسته د افغانستان بانک د اداېتو لوی آمر ښاغلي غلام رسول رسولي خبرې وکړې او یادونه یې وکړه چې د دې سیستم د کارولو په اړه د افغانستان بانک د اداېتو د لوی آمریت لخوا ټولو بانکونو او نورو اړوندو ادارو ته روزنه ورکړل شوې او همدا راز یاد سیستم د سوداګریزو بانکونو او د مالیې له محترم وزارت سره په بریالیتوب ازمویل شوی دی. نوموړي د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړه دا چې دا سیستم زموږ د خپل داخلي کادر له خوا جوړ شوی دی که په دغه سیستم کې بدلون راوستلو ته اړتیا ولیدل شي په آسانۍ سره دا بدلون پکې راتلی شي او د دې سیستم لومړی فاز چې د مالیې د محترم وزارت د اسیکودا سیستم او د افغانستان بانک د CBS سیستمونو وصل وو، په بریالیتوب سره ترسره شوی دی او د راکړې ورکړې بهیر یې په اتومات ډول په چټکۍ ترسره کیږي.

د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه ژمن دی چې د درنو هېوادوالو لپاره په ټولو برخو کې د غوره خدمتونو د وړاندې کولو زمینه برابره کړي.

# سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با هماهنگ کننده ویژه سازمان ملل متحد برای افغانستان، دیدار کرد

۹ ربیع الثانی۱۴۴۵ - محترم هدایت الله بدری سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با محترم فریدون سینیرلی اوغلو هماهنگ کننده خاص سازمان ملل متحد برای افغانستان، پیرامون شماری از موضوعات مالی و بانکی دیدار و گفتگو نمود.

طی این نشست سرپرست د افغانستان بانک خاطرنشان کرد که این بانک در پرتو قوانین و مقررات بین المللی به دنبال روابط بهتر با تمام نهادهای مالی و بانکی جهان است.

آقای بدری از هماهنگ کننده ویژه سازمان ملل متحد خواست تا یک گزارش واقعی از تحولات افغانستان به جامعه جهانی ارائه کند تا جامعه جهانی از تحولات افغانستان اطلاعات واقعی بدست آورد.

گفتنی است که در این نشست، محترم صدیق الله خالد آمر عمومی دفتر ریاست د افغانستان بانک نیز اشتراک داشت و با اشاره به محدودیت های وضع شده روی سکتور بانکی، معلومات دقیقی را پیرامون تحولات سکتور بانکی به هماهنگ کننده ویژه سازمان ملل ارائه نموده گفت که با توجه به مشکلات مردم افغانستان باید محدودیت های اعمال شده روی این بخش، برداشته شود.

محترم خالد ذخایر ارزی کشور را حق مردم افغانستان خوانده اشاره نموده که مسدود شدن این ذخایر به ضرر مردم افغانستان بوده و ابراز امیدواری کرد که جامعه جهانی در این زمینه به نفع مردم افغانستان گام های موثری بردارد.

قابل یاد آوریست که در این نشست، محترم احمد جواد سداد آمر سیاست پولی، محمد عباس سامح آمر عملیات بازار و محترم احسان الله منصور معاون آمریت نظارت بانکها نیز حضور داشته و روی موضوعات مختلف مرتبط با نظام بانکی به تفصیل صحبت نمودند.

# نویو راستنېدونکو هېوادوالو د هرکلي په موخه تورخم ته
# د افغانستان بانک د سرپرست رئیس سفر



۱۴۴۵ ربیع الثاني ۲۶ مه – د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري او مل پلاوي له پاکستان څخه د افغان کډوالو د راتګ او هرکلي په موخه تورخم ته سفر وکړ، د دې سفر په اوږدو کې یې د ننګرهار له ولایتي چارواکو، د کډوالو لپاره د تماکیل شویو کمېټو له مسئولینو سره وکتل او د هغو افغانانو وضعیت یې له نږدې ولید چې په دې وروستیو کې له پاکستان څخه خپل هېواد ته راستانه شوي دي.

په دې سفر کې د افغانستان بانک سرپرست رئیس هېوادوالو ته له پاکستان څخه هېواد ته د راتګ د هرکلي تر څنګ افغانستان د ټولو ګډ کور یاد کړ او د آبادۍ په برخه کې یې د ټولو پر ونډې اخیستو ټینګار وکړ.

نوموړي وویل: د افغانستان بانک د خپلې ژمنتیا له مخې چې د هېوادوالو لپاره یې لري، د هغو هېوادوالو لپاره چې نوي له پاکستان څخه راځي د دندو د زمینې برابرولو په موخه ۸۰ بستونه ځانګړي کړي دي او هغه درانه هېوادوال چې د دې بستونو لپاره ټاکل شوي شرایط پوره کړي په یادو بستونو کې به په دندو وګمارل شي. ښاغلي بدري وویل د ورو پورونو د مؤسسو په طرحې هم کار روان دی چې په بشپړېدو سره به یې نوي راستنېدونکي هېوادوال وکولای شي د کوچنیو کاروبارونو د پیل لپاره له یادو مؤسساتو څخه په آسانه توګه پورونه تر لاسه کړي.

د افغانستان بانک سرپرست رئیس دا هم وویل چې د سوداګریزو بانکونو مشرانو ته یې لارښوونه کړې ده چې د نورو راستنېدونکو هېوادوالو لپاره د دندو زمینه برابره کړي او خالي بستونه د دوی لپاره ځانګړي کړي.

د یادونې وړ ده چې ښاغلي بدري له نورو ادارو او بنسټونو هم وغوښتل څو له پاکستان څخه د راستیدونکو هېوادوالو د لاسنیوي لپاره د کاري زمینو برابرولو په برخه کې هلې ځلې جاري وساتي او په دې وسیله درانه هېوادوال د نورو له احتیاجه خلاص کړي.

باید وویل شي چې د افغانستان بانک د خلکو د مالي استازي په توګه، د هېواد د مالي نظام مسئولیت پر غاړه لري. دا بانک ژمن دی چې په هر ډول وضعیت کې د درنو هېوادوالو لاسنیوی وکړي او د دوی لپاره د غوره خدمتونو د وړاندې کولو زمینه برابره کړي.



**یوه ترکي کمپني په افغانستان کې د خامو نفتو د پروسس فابريکه جوړوي**

سپوږمی راډیو،

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د ترکي کمپنی له استازي سره کتلي دي. په دې کتنه کې د ترکي کمپنۍ استازي د افغانستان دننه د خامو نفتو د تصفیې په برخه کې خپله علاقمندي ښودلې او ویلي یې دي چې د افغانستان د نفتو په برخه کې د پانګونې تر څنګ د هېواد دننه په سټنډرډ او معیاري توګه د نفتو د تصفیې فابریکه جوړوي. دغه راز په دې ناسته کې استازي د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د پانګونې لپاره د زمینې برابرولو، اسانتیاوو رامنځته کولو او د هېواد دننه د خامو نفتو د کارخونې جوړولو په برخه کې د لازمو همکاریو ژمنه وکړه.

**بلومبرگ: تجارت بریکس در آستانه پیوستن اعضای جدید افزایش یافت**

شبکه خبری بلومبرگ روز جمعه در گزارشی اعلام کرد که پنج عضو فعلی گروه بریکس تجارت را از سال ۲۰۱۷ تا ۲۰۲۲ به میزان ۵۶ درصد افزایش دادند و در سال گذشته میلادی به حدود ۴۲۲ میلیارد دالر گردش مالی رسیدند. بریکس در حال حاضر شامل برزیل، روسیه، هند، چین و آفریقای جنوبی است، اما آرژانتین، مصر، اتیوپی، ایران، عربستان سعودی و امارات در جدی آینده به آن ملحق خواهند شد. تصمیم برای پذیرش اعضای جدید در جریان نشست ماه حوت این گروه در ژوهانسبورگ گرفته شد. بر اساس برآوردهای تحلیلگران، این گروه که در حال بزرگ شدن است، تقریباً نیمی از تولید جهانی را تا سال ۲۰۴۰ به خود اختصاص خواهد داد و به دو برابر سهم گروه هفت (G7) از اقتصاد جهان خواهد رسید. گروه ۷ متشکل از کشورهای آمریکا، کانادا، بریتانیا، فرانسه، ایتالیا، آلمان و ژاپن است. پیش از این در سال جاری میلادی، ولادیمیر پوتین، رئیس‌جمهور روسیه اعلام کرد که گروه بریکس از نظر برابری قدرت خرید (PPP) از گروه ۷ پیشی گرفته است. کارشناسان پیش‌بینی می کنند که مجموع تولید ناخالص داخلی (GDP) بریکس پس از پیوستن اعضای جدید برحسب برابری قدرت خرید به حدود ۶۵ تریلیون دالر برسد. این امر سهم این گروه از تولید ناخالص داخلی جهانی را از ۳۱.۵ درصد فعلی به ۳۷ درصد خواهد رساند. برای مقایسه، سهم گروه ۷ از تولید ناخالص جهان در حال حاضر حدود ۲۹.۹ درصد است. گروه بریکس پیش از این بریک BRIC نام داشت، اصطلاحی که اقتصاددانان با استفاده از حرف اول چهار کشور برزیل، روسیه، هند و چین که پتانسیل تسلط بر اقتصاد جهان در قرن بیست و یکم را دارند، ابداع شد. این کشورها ابتدا در سال ۲۰۰۶ گرد هم آمدند و بعداً از آفریقای جنوبی به عنوان عضو جدید استقبال کردند و حرف S را به این کلمه مخفف اضافه کردند. بنا بر این گزارش، گروه بریکس که در ابتدا عمدتاً با هدف برجسته کردن فرصت های سرمایه گذاری در میان اعضای آن تشکیل شد، در ساختن نظم جهانی جدید "چند قطبی" که

به ارائه صدای قوی تری به جهان جنوب کمک می کند، نقش اساسی داشته است.

## هشدار سازمان تجارت جهانی درباره کاهش رشد اقتصاد جهان

راشاتودی،

مدیر کل سازمان تجارت جهانی (WTO) هشدار داد که اقتصاد جهانی نشانه هایی از چندپارگی را نشان می‌دهد که می تواند برای همه بسیار پرهزینه باشد. انگوزی اوکونجو-ایویلا، مدیر کل سازمان تجارت جهانی (WTO) هشدار داد که اقتصاد جهانی نشانه‌هایی از چندپارگی را نشان می‌دهد که می تواند برای همه بسیار پرهزینه باشد. وی روز یکشنبه در مصاحبه با روزنامه نیکی جاپان در مورد تشدید درگیری اسرائیل و حماس و تأثیر بالقوه آن بر رشد اقتصاد جهان در صورت گسترش این جنگ به دیگر نقاط خاورمیانه شدیداً ابراز نگرانی کرد. اوکونجو-ایویلا تصریح کرد: این منطقه یکی از مناطقی است که بسیاری از نفت و گاز جهان از آنجا استخراج می‌شود. بنابراین به ناچار (در اقتصاد جهان) تأثیر خواهد داشت. به گفته سازمان تجارت جهانی، چشم انداز سال ۲۰۲۴ هنوز نسبتاً خوش بینانه است و رشد آن در حدود ۳.۳ درصد پیش بینی شده است. این سازمان همچنین تخمین زد که اگر جهان به دو بلوک تجاری تقسیم شود، تولید ناخالص داخلی جهان در بلندمدت ۵ درصد کاهش خواهد یافت. اوکونجو-ایویلا هشدار داد که این یک زیان بزرگ خواهد بود و آن را معادل از دست دادن کل اقتصاد ژاپن دانست. به گفته رئیس سازمان تجارت جهانی، حجم تجارت کالا و خدمات هنوز قابل توجه است و حدود ۳۱ تریلیون دالر است، و این سازمان نشانه‌های بزرگی از جهانی‌زدایی گسترده تر» نمی‌بیند. پیش از این در ماه جاری میلادی، سازمان تجارت جهانی پیش‌بینی خود را برای رشد تجارت جهان در سال ۲۰۲۳ از ۱.۷ درصدی که قبلاً تخمین زده شده بود به ۰.۸ درصد رسانده و دلیل این کاهش شدید را کند شدن رشد تولید اعلام کرد.

## ایران: افغانستان سر له سبا چابهار بندر د صادراتو او وارداتو لپاره کارولی شي

سپوږمۍ راډیو،

ایراني چارواکي وايي، افغانستان کولای شي سر له سبا څخه د چابهار بندر د صادراتو، وارداتو او ترانزیټ لپاره وکاروي. د ریاست الوزرا اقتصادي معاونيت پر خپلې اِکس پاڼه ليکلي، چې د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر په چابهار بندر کې په يوه خانګړې ناسته کې د سيستان او بلوچستان له والي حسين مدرس خياباني او حسن کاظمي قُمي، سره کتلي دي. په دې غونډه کې په افغانستان کې د ايران سفير او يو شمېر نورو ايراني چارواکو هم ګډون کړی وو او ايراني لوري ويلي چې افغانستان کولای شي سر له سبا څخه د چابهار بندر د صادراتو او وارداتو لپاره وکاروي.

## سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با اعضای اتحادیه صرافان سرای شهزاده، دیدار نمود

۱۷ ربیع الثانی ۱۴۴۵- محترم هدایت الله بدری سرپرست ریاست کُل د افغانستان بانک با نمایندگان اتحادیه صرافان سرای شهزاده دیدار نموده و پیرامون مشکلات و چالش های صرافان، بحث و تبادل نظر نمودند.
محترم هدایت الله بدری طی این نشست گفت که د افغانستان بانک برای میکانیزه سازی فعالیت های صرافان و عرضه کنندگان خدمات پولی از هیچ نوع تلاش دریغ نورزیده و برای حل مشکل صرافان در پرتو قوانین و مقررات مربوطه، اقدام خواهد کرد. محترم بدری گفت که یکتعداد افراد سودجو و مغرض در بین دالر های سابقه و جدید (سفید و سبز) تفاوت ارزش ایجاد می کنند که کار نادرست است؛ د افغانستان بانک در این زمینه متحد المال های جداگانه را عنوانی بانکها و صرافان فرستاده و جداً تقاضا می کند که طبقاً اجراات نمایند، در غیر آن با افراد سود جو برخورد قانونی شده و به مراجع عدلی و قضایی سپرده خواهند شد.
سرپرست دافغانستان بانک از اتحادیه صرافان خواست تا در زمینه معرفی آن شمار از افراد که خلاف قانون و مقررات بانکی ، مبادرت به فعالیت های غیر مجاز می ورزند، با د افغانستان بانک همکار باشند.
متعاقباً محترم صدیق الله خالد آمر عمومی دفتر ریاست گفت که د افغانستان بانک تلاش می ورزد تا فعالیت شرکت های صرافی در کشور مطابق به قانون صورت بگیرد، زیرا شرکت های صرافی و خدمات پولی زمینه پیشرفت و تقویه نظام پولی و مالی افغانستان را مهیا می سازند و د افغانستان بانک هم از تمام عملکرد های قانونی آنها، حمایت می کند. وی گفت که با صرافان غیر مجوز و دست فروشان مطابق به اصول د افغانستان بانک اقدام صورت خواهد گرفت.
در اخیر محترم حاجی بهرام خان رییس اتحادیه صرافان سرای شهزاده، ضمن مطرح نمودن مشکلات و چالش های صرافان، در کنار قدردانی از د افغانستان بانک در راستای تسهیلات فراهم شده به شرکت های صرافی و خدمات پولی، به نمایندگی از صرافان تعهد نمود که بادر نظر داشت قوانین و مقررات نافذه، در راستای شکوفایی کشور و رشد اقتصادی، فعالیت نمایند.

## د افغانستان بانک د سرپرست رئیس په مشرۍ د سوداګریزو بانکونو له استازو سره غونډه

۱۴۴۵ ربيع الثاني ۲۳ مه – د افغانستان بانک سرپرست رئيس ښاغلي هدايت الله بدري په مشرۍ د سوداګريزو بانکونو له استازو سره غونډه جوړه شوه او په کې د سوداګريزو بانکونو اړوندو ستونزو، وړانديزونو، د اسلامي بانکوالۍ محصولاتو، صعب الحصول پورونو لپاره د ميکانيزم پر جوړولو، محدوديتونو کمولو او پر شمېر نورو موضوعاتو په اړه هر اړخيزې خبرې وشوې.
په دې غونډه کې د سوداګريزو بانکونو استازو خپلې ستونزې او وړانديزونه د افغانستان بانک له رهبرۍ سره شريک کړل او د دې غونډې په اوږدو کې د اړوندو موضوعاتو په اړه هر اړخيز بحثونه ترسره شول، حل لارې وړاندې شوې او ژمنه وشوه چې پاتې نورو ته به يې تر راتلونکو غونډو رسيدنه وشي.
د افغانستان بانک سرپرست رئيس ښاغلي هدايت الله بدري په دې غونډه کې د سوداګريزو بانکونو استازو ته وويل چې د افغانستان بانک د قانون او مقرراتو په رڼا کې ژمن دی چې په ټولو هڅو برخو کې له سوداګريزو بانکونو سره پوره همکاري وکړي چې د درنو هېوادوالو لپاره د آسانتياوو رامنځته کولو په موخه رامنځته کېږي.
بايد ووېل شي په ياده غونډه کې د افغانستان بانک د رياست د دفتر لوی آمر ښاغلي صديق الله خالد هم ګډون درلود، نوموړي په سوداګريزو بانکونو کې د خلکو پر امانتونو د محدوديتونو د کچې راکمولو اړوند او مندرسو بانکنوټونو د تعويض موضوع په اړه مفصلې خبرې وکړې او د دې بانکونو له استازو يې وغوښتل چې د افغانستان بانک د متحدالمال مکتوبونو مطابق خلکو ته پيسې ورکړي او د مندرسو بانکنوټونو د تعويض په برخه کې اړينې آسانتياوې رامنځته کړي.
د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک د بانکي څارنې لوی آمر ښاغلي عبدالرحمن قانت هم حضور درلود او د بانکي څارنې اړوند بېلابېلو موضوعاتو په اړه يې د افغانستان بانک له لورې پر سوداګريزو بانکونو د څارنې په اړه رڼا واچوله او په دې برخه کې يې په لا زياتو ملو خلو ټينګار وکړ.



# د افغانستان اقتصادي پرمختګ لپاره یو زرین فرصت

ډېری عوامل شته چې د یو هېواد اقتصاد او اقتصادي وده په منفي یا مثبته توګه اغېزمنولای شي. له دې عواملو څخه یو یې چې د یو هېواد پر اقتصادي ثبات او وده د پام وړ اغېزه پرېږدي، د هغه هېواد امنیتي وضعیت دی. د یو ښه امنیتي چاپېریال څخه برخمن هېواد کې د جرمونو کمې پېښې کېږي، سیاسي ثبات یکې پایداره او د وګړو د حقونو ساتنه یکې ډاډمنه وي چې په پایله کې به هغه هېواد کې د پانګونې لپاره د پانګوالو باور زیاتېږي، سوداګري او اقتصادي فعالیتونه پکې وده کوي او نړیوالې پانګونې ته لاره هوارېږي چې له امله یې کاري فرصتونه ډېرېږي، بېوزلي کمېږي او د خلکو د ژوند معیارونه ښه کېږي. په داسې وضعیت کې هېواد د پرمختګ په لور درومي او وګړي یې د سوکالۍ په فضا کې ژوند کوي. برعکس، یو هېواد چې د بې ثباته امنیتي وضعیت څخه برخمن وي، د جرمونو لوړې کچې، سیاسي ناکراریو او د وسله والو جګړو زیاتو پېښو سره مخ وي، د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې جدي خنډ ګرځي، د پانګوالو باور له منځه ځي او د سوداګرۍ کړنې له ستونزو سره مخ کېږي چې د کورنیو او بهرنیو پانګونو په برخه کې لوی خنډونه رامنځته کولای شي. له همدې امله، یو باثباته او خوندي چاپېریال د دوامداره اقتصادي ودې او سوکالۍ لپاره خورا اړین ګڼل کېږي.

## امنیت او اقتصادي وده لازم و ملزوم دي

د امنیت او اقتصادي ودې تر منځ اړیکه یوه مهمه او پیچلې اړیکه ده او دواړه پر یو بل ژورې اغېزې لري. امنیت داسې یو چاپېریال رامنځته کوي چې اقتصادي وده او ثبات پکې تضمینېږي. کله چې سوداګر او شرکتونه د خوندیتوب احساس کوي، د مالي خطر منلو، نوښت او پانګونې ته یې لېوالتیا زیاتېږي. په ورته وخت کې، اقتصادي وده د ټولنیزې هوساینې لپاره د لارې هواروي، د نابرابرۍ کمولو او د ناامنۍ او بې ثباتۍ اصلي لاملونو په نښه کولو سره د هېواد د امنیت په برخه کې مرسته کوي. یو پیاوړی اقتصاد کولای شي چې د کار فرصتونه رامنځته کړي، ټولنیزې ناخوالې او شکایتونه کم کړي، او د عامه خدماتو تمویل، د سوداګرۍ او تصدیو پیاوړتیا، د اغېزناکو قوائینو د پلې کولو او د امنیتي ادارو د ملاتړ له لارې د ټولنې په هوساینه کې مرسته وکړي. اقتصادي ثبات هم د ګډوډیو، بې ثباتیو او جرمي کړنو احتمال کموي او هم د یو ملت ټولیز امنیت داډمنوي.

## زرین فرصت

افغانستان چې د طبیعي منابعو، کانونو، د اوبو پرېمانه سرچینو او زړه راښکونکو طبیعي ښکلاګانو او منظرو څخه برخمن هېواد دی، د څلورو لسیزو جګړو او بې ثباتیو سره لاس و ګرېوان وو. دوامداره بې ثباتیو او ناامنیو د هېواد پر اقتصاد، زیربناوو او د ټولنیز جوړښت په ګډون د پرمختګ پر ټولو اړخونو منفي اغېزې درلودلې دي. له دې ټولو ناخوالو او ننګونو سره سره، اوسمهال په افغانستان کې امنیتي وضعیت د پخوا په پرتله د ښه کېدو په حال کې دی، چې د اقتصادي ودې او ثبات لپاره یې نوي فرصتونه راټوکولي او د یوه باثباته اقتصاد لپاره یې هیلې لاپسې زیاتې کړې دي.

د تېرو څو لسیزو راهیسې، د افغانستان امنیتي ننګونو د مهمو زیربنایي پروژو د پرمختګ او تطبیق مخه نیولې وه. د جګړې ویجاړوونکو اغېزو له امله د هېواد ډېری زیربناوې خرابې شوي او عامه تاسیسات زیانمن شوي دي. د امنیت نشتوالي د پانګوالو او پرمختیایي ادارو لپاره د زیربنایي پروژو پیل او بشپړول ستونزمنوي او د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ مخه نیسي. له سترو ننګونو سره سره اوسمهال د هېواد د اقتصاد په آسمان کې د هیلې یو کوچنی ستوری روښانه شوی دی. په امنیتي وضعیت کې د مثبتو پرمختګونو له برکته، افغانستان چمتو دی چې د اقتصادي ودې او پرمختګ په لور یو هیله بخښونکی سفر پیل کاندي. د امنیتي وضعیت ښه والی د هېواد د زیربناوو د بیارغونې او پراختیا لپاره لاره هواروي او د پایداره اقتصادي ودې او پراختیا زمینه برابروي. افغانستان کولای شي چې د ښه امنیت له دې زرین فرصت څخه ګټه واخلي او د نړۍ له سیالو هېوادونو سره اوږه په اوږه د پرمختګ په لور چټک او څواکمن ګامونه واخلي. په دې مقاله کې په څینو هغو فرصتونو رڼا اچول شوې ده چې افغانستان کولای شي د اوسني ښه امنیت له برکته ترې ښه ګټه پورته کړي.

## زیربنا: د هېواد د ملا تیر

یو له مهمو فرصتونو څخه چې د هېواد پرمختګ لپاره ډېر اړین ګڼل کېږي، د بیخ بناوو پراختیا ده. د افغانستان زیربناوې د دوامداره جګړو له امله ډېرې زیانمنې شوې دي چې د سوداګرۍ، اړیکو او اړینو خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې یې ترډېره بریده ستونزې رامنځته کړې دي. د اوسني ښه امنیت له امله، موږ کولای شو چې د خپلو ترانسپورتي شبکو، د برېښنا بندونو، مخابراتي سیستمونو او نورو مهمو زیربناوو په بیارغولو تمرکز وکړو. د زیربنایي پروژو بریالی پیل او بشپړېدل به نه یوازې داخلي اتصال پیاوړی کړي، بلکې افغانستان به د دې جوګه کړي چې په سیمه ییزو او نړیوالو سوداګریزو شبکو کې

